داکترلطیف یاد ۲۰۱۷/۰۳/۰۶

په افغانستان کې دایران ناولې موخې (هدفونه)

دایران حکومت په افغانستان کې خپلې ځانګړې ناولې موخې او هدفونه لري . ایران دافغانستان دهرات سیمه له ډیر پخوا وخته دخپل هیواد پورې یوه تړلې سیمه بولي . دشهید محمد داودخان دنظام تر ړنګیدو وروسته او په تیره بیا پر افغانستان باندې دشوروي اتحاد تر یرغل وروسته ایران په افغانستان کې خپلې اته ګوني ډلې جوړې کړې او دهغوی ملاتړ یې وکړ.دوی دهزاره جاتو سیمې ته هرډول وسلې ولیږلې څو دوخت دروسي پلوه رژیمونو په وړاندې دمبارزې په نامه دوی په وسلو سمبال اوپیاوړي کړي . ایران دخپلو دغو ډلوپه ذریعه په افغانستان کې خپل نفوذ او اغیزه هم رامینځ ته کړه. دایران حکومت اوپه کابل کې دایران سفارت د۱۹۹۰ کلونو په کورنۍ جګړه کې نور تیل هم وشیندل څو دغه جګړه بله وساتي، خو دحیرانتیا وړ خبره داده چې ایران ونه شو کولای په افغانستان کې دطالبانو ګواښ درک او وپیژني .وروسته ایرا ن مرسته وکړه چې دکابل - اسلا م آباد - ریاض دپالیسۍ بر خلاف دشمالي ټلوالې مقاومت رامینځ ته کړي او له هغوسره مرسته وکړي . ایران دطالبانوپه وړاندې درباني-مسعود او ددوی د شمالي ټلوالې سره هرډول پوځي اوماد ي بشپړه مرسته وکړه.

اوس هم ایران په افغا نستان کې په ښکاره اوپټه توګه دخلیلي ، محقق او شیخ آصف محسني دوحدت او حرکت دګوندونو سره هرډول مادی او معنوي مرستې رواني او جاري ساتلي دي . همداراز ایران غواړي چې افغانستا ن د پارس دخلیج ، منځنۍ آسیا ، هند او چین ترمینځ یو سوداګریز مارکیټ او اډه وي چې ددوی سوداګریز توکي په پراخه پیمانه پکې خرڅ شي .همدا اوس ایران دخپل فرهنګ دغوړیدو لپاره په افغانستان کې پوهنتونونه ، راډیو ګاني، خپروني او تلویزیونونه لري چې په عملي توګه ایراني فرهنګ ته خدمت کوي .

برسیره پردې ایران په افغانستان کې مذهبي، قومي او ژبني تعصباتو ته هم لمنه وهي اودپښتو ژبې دکمزوري کولولپاره په پراخه پیمانه هلې ځلې کوي او دا یو داسې حقیقت دی چې څوک ترې سترګې نه شي پټولی.همدااوس ایران په عملي توګه دطالبانو سره پوځي او نغدي مرسته کوي ، څو دداعشي ترهګرو په وړاندې چې دوی ترې ویره لري وجنګیږي

پای

.

د لطیف یاد دفیسبوک نه

افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ